د واکسین د معلوماتو بیانیه

# انفلونزا (زکام) واکسین (غیر فعال شوی یا نوی ترکیب شوی): په هغه څه چې باید پوه شئ

د واکسین معلوماتو ډېرې بیانیې په هسپانیه ایی او نورو ژبو موجود دي. وګورئ www.immunize.org/vis

Hojas de información sobre vacunas están disponibles en español y en muchos otros idiomas. لیدنه وکړئ www.immunize.org/vis

## 1. ولې باید واکسین شم؟

**د انفلونزا واکسین** له **انفلونزا (زکام)** څخه مخنیوی کولی شي.

**زکام** یوه ساري ناروغي ده چې هر کال، په عام ډول اکتوبر او مې ترمنځ متحده ایالاتو کې خپرېږي. هر څوک په زکام اخته کېدی شي، خو ځینو خلکو لپاره ډېر خطرناک وی. کوچنیان او ماشومان، 65 کاله یا ډېر عمر لرونکي خلک، امیدواره کسان، او ځانګړې روغتیایي شرایط یا کمزوری معافیت سیستم لرونکي خلک د زکام پېچلتیاو لوړ خطر سره مخ دي.

د سږو پرسوب، برونشیټ، د سینوس انتانیات او د غوږونو انتانیات د زکام-اړوندو پېچلتیاو مثالونه دي. که چیرې د زړه ناروغي، سرطان، یا شکرې په څیر روغتیایي ستونزې لرئ، زکام یې نور هم ناوړه کولی شي.

زکام د تبې او ساړه، ستونی درد، د عضلاتو درد، کمزوري، ټوخی، سردرد، او بهیدونکې یا بندې پوزې لامل ګرځیدی شي. ځینې خلک کیدای شي د زړه بدوالی او اسهال ولري، خو دا د مشرانو په پرتله ماشومانو کې ډېر عام وی.

په اوسط کال کې، **متحده ایالتو کې زرګونه کسان له زکام څخه مري**، او ډېر نور روغتون کې بستري کېږي. د زکام واکسین میلیونونو ناروغیو او هر کال د زکام اړوند ډاکټر ته کتنو څخه مخنیوی کوي.

## 2. د انفلونزا واکسینونه

CDC هر 6 میاشتې یا ډېر عمر لرونکو ته د زکام په هر فصل کې د واکسین کولو سپارښتنه کوي. **له 6 میاشتو څخه تر 8 کلونو عمر لرونکي ماشومان د زکام یو فصل په اوږدو کې** کیدای شي 2 ډوزونو ته اړتیا ولري. **نور خلک** د زکام هر فصل کې یوازې 1 ډوز ته اړتیا لري.

له واکسیناسیون څخه وروسته د خوندیتوب رامنځته کیدل تقریباً 2 اوونۍ وخت نیسي.

د زکام ډېر وایرسونه شته، چې تل بدلیږي. هر کال د زکام نوی واکسین د دې لپاره چې د انفلونزا وایرس په وړاندې چې اټکل کېږي د زکام راتلونکی فصل کې به د ناروغۍ لامل شي خوندیتوب وړاندې کولو لپاره جوړېږي. حتی که چیرې دغه واکسین له دغو وایرسونو سره په بشپړه توګه ورته نه وي، بیا هم ځینې خوندیتوب وړاندې کوي.

د انفلونزا واکسین **د زکام لامل نه ګرځي.**

د انفلونزا واکسین د نورو واکسینونو په څېر ورته وخت کې ورکول کېږي.

## 3. خپل روغتیایي پاملرنې وړاندې کوونکی سره خبرې وکړئ

که واکسین ترلاسه کوئ خپل واکسین وړاندې کوونکی ته خبر ورکړئ:

- د انفلونزا واکسین پخوانی ډوز څخه وروسته مو د **الرژي غبرګون درلود**، یا کوم **شدید، ژوند ګواښونکي الرژي لرئ.**
- که یې **ګیلن-بیري سنډروم** (چې «GBS» هم بلل کیږي) درلود

ځینو پېښو کې، ستاسې روغتیایي پاملرنه وړاندې کونکی کولی شي د انفلونزا واکسیناسیون راتلونکې کتنې ته وځنډوي.

د انفلونزا واکسین د امیدوارۍ پر مهال هر کله تطبیق کیدی شي. هغه خلک چې امیدواره دي یا د انفلونزا فصل پر مهال به امیدواره شي باید د انفلونزا غیر فعال شوی واکسین وکاروي.

کوچني ناروغي لکه زکام لرونکی خلک باید واکسین شي. هغه خلک چې متوسطه یا شدیده ناروغي لري په عام ډول باید د انفلونزا واکسین ترلاسه کولو څخه وړاندې د بیرته رغیدو انتظار وکړي.

ستاسې روغتیایي پاملرنې وړاندې کوونکی اضافي معلومات درکولی شي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

## 4. د واکسین غبرګون خطرونه

د انفلونزا واکسین څخه وروسته د واکسین ځای کې درد، سوروالی او پرسوب، تبه، عضلاتو درد، او سردرد پېښیدلی شي.

له انفلونزا غیر فعال شوی واکسین (د زکام واکسین) څخه وروسته ډېر لږ د ګیلن-بیري سنډروم خطر موجود دی.

ځوان ماشومانو کې چې له پنوموکوک واکسین (PCV13) او/ یا DTaP واکسین سره یو ځای ورته وخت کې د زکام واکسین کوي ډېر د تبې له امله د تشنج لرلو امکان لري. که د زکام واکسین ترلاسه کوونکی ماشوم کله هم تشنج درلود خپل روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی خبر کړئ.

ځینې وختونه خلک د واکسیناسیون په ګډون طبي کړنلارې څخه وروسته بې سده کیږي. که د ګنګسوالی، لید کې بدلون یا غوږونو کې انګازې احساسوئ خپل وړاندې کوونکی خبر کړئ.

د هر درمل په څیر، ډېر لږ امکان لري چې واکسین د الرژي شدید غبرګون، نور جدي ټپ یا مړینې لامل شي.

## 5. که چیرې کومه جدي ستونزه وي؟

د الرژي غبرګون کیدای شي وروسته له هغې چې واکسین شوی کس کلینیک پرېږدي پیښ شي. که د الرژي شدید غبرګون نښه ووینئ (سرې دانې، د مخ او ستونی پرسوب، ساه اخیستو کې ستونزه، د زړه چټک ضربان، ګنګسوالی، یا کمزوري)، له **9-1-1 سره اړیکه ونیسئ** او دغه کس تر ټولو نژدې روغتون ته یوسئ.

هغو نښو لپاره چې تاسې اندېښمن کوي، خپل روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی سره اړیکه ونیسئ.

منفي غبرګونونه باید د واکسین منفي پیښو راپور ورکوني سیستم (VAERS) ته راپور ورکړل شي. په عام ډول ستاسې روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی دغه راپور ډکوي، یا تاسې یې په خپله ډک کړئ. د VAERS وېب پاڼې [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) څخه لیدنه وکړئ یا له **1-800-822-7967 سره اړیکه ونیسئ.**

*VAERS یوازې د غبرګون راپور ورکونې لپاره ده، او د VAERS کارکوونکي طبي مشورې نه ورکوي.*

## 6. د واکسین د ټپ د جبران ملي پروګرام

د واکسین د ټپ د جبران ملي پروګرام (VICP) یو فدرالي پروګرام دی او هغو خلکو لپاره چې ځانګړو واکسینونو له لوري ټپي شوي دي جبران لپاره جوړ شوی و. د واکسیناسیون له امله د ټپ یا مړینې اړوند د تورونو ادعاوې د ثبت لپاره د وخت محدودیت لري، چې کیدای شي د دوو کلونو په اندازه لنډه وي. د اضافي معلوماتو ترلاسه کولو یا ادعا ثبتولو لپاره د VICP وېب سایټ څخه لیدنه وکړئ [www.hrsa.gov/vaccinecompensation](http://www.hrsa.gov/vaccinecompensation) یا له **1-800-338-2382** سره اړیکه ونیسئ.

## 7. څنګه نور زده کولی شم؟

- خپل روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی نه پوښتنه وکړه ئ.
- خپل سیمه ییز یا ایالتي روغتیایي څانګې سره اړیکه ونیسئ.
- د واکسین کڅوړو
- دننه کولو او اضافي معلوماتو لپاره د خوړو او درملو اداري (FDA) وېب پاڼې څخه [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines) لیدنه وکړئ.
- د ناروغۍ د کنټرول او مخنیوی مرکزونو (CDC) سره اړیکه ونیسئ:
  - له **1-800-232-4636 ( 1-800-CDC-INFO )** سره اړیکه ونیسئ یا
  - د CDC وېب پاڼې [www.cdc.gov/vaccines](http://www.cdc.gov/vaccines) **څخه لیدنه وکړئ**

د طبي پاملرن ه )نې( چمتو کونکو ته د واکسین کولو دقیق وضعیت معلوماتو، د واکسی ن کولو ارزونه، او د راتلونکي وخت واکسین کولو لپاره و ړاندیز شوی مهالویش اجازه ورکولو لپاره، معلومات به د میشیګان پاملرن ې ښه والي ثبتوني ته واستول شي. اشخاص د دې غوښتن ه کولو حق لري چې د دوی د طبي ( Michigan Care Improvement Registry ) پاملرنې چمتو کونکي ثبتوني ته د واکسی ن کولو معلومات ونه لیږ ي.

DCH-0457PA AUTH: P. H. S., Act 42, Sect. 2126.

Pashto translation of the Influenza (flu) Vaccine (inactivated or recombinant) VIS provided by Multilingual Services, CDC